# نرلیک


| گڼه | | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | لومړۍ برخه: جنتيك | ۱ |
| ۲ | لومړی څپرکی: مندل او وراثت | ۲۴-۲ |
| ۳ | د لومړي څپرکي لنډيز او پوښتنې | ۲۶-۲۵ |
| ٤ | دويم څپرکی: جنتيکي بې نظمي | ۳٤-۲۷ |
| ٥ | د دويم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ۳٦-۳٥ |
| ٦ | دريم څپرکی: DNA او جنتيکي انجينري | ٥۲-۳۷ |
| ۷ | د دريم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ٥٤-٥۳ |
| ۸ | دويمه برخه: د انسان په بدن کې بيولوژيکي عمليې | ٥٥ |
| ۹ | څلورم څپرکی: د بدن تنظيم او عکس العمل (غړي (عضلات)، حرکت، نيورون او عصبي تحريک) | ٦۳-٥٦ |
| ۱۰ | هورمونونه او د فعاليتونو همغږي | ۷٥-٦٤ |
| ۱۱ | د څلورم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ۷۸-۷٦ |
| ۱۲ | پنځم څپرکی: د وينې تصفيه او د بدن دفاع | ۹۸-۷۹ |
| ۱۳ | د پنځم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ۱۰۰-۹۹ |
| ۱٤ | شپږم څپرکی: د جنين تکثر او انکشاف، د انسان تناسلي غړي | ۱۱٤-۱۰۱ |
| ۱٥ | د شپږم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ۱۱٦-۱۱٥ |
| ۱٦ | دريمه برخه: په تخم لرونکو نباتاتو کې بيولوژيکي عمليې | ۱۱۷ |
| ۱۷ | اووم څپرکی: په تخم لرونکو نباتاتو کې د موادو انتقال | ۱۲۸-۱۱۸ |
| ۱۸ | د اووم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ۱۳۰-۱۲۹ |
| ۱۹ | اتم څپرکی: نباتي عکس العملونه | ۱٤٦-۱۳۱ |
| ۲۰ | د اتم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ۱٤۸-۱٤۷ |
| ۲۱ | نهم څپرکی: په ګل لرونکو نباتاتو کې تکثر | ۱٥۸-۱٤۹ |
| ۲۲ | د نهم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ۱٦۰-۱٥۹ |
| ۲۳ | څلورمه برخه: د چاپيريال ستونزې او ککړتيا | ۱٦۱ |
| ۲٤ | لسم څپرکی: د چاپيريال ستونزې او حل يې | ۱۸۲-۱٦۲ |
| ۲٥ | د لسم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ۱۸٤-۱۸۳ |
| ۲٦ | اخځليکونه | ۱۸٥ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## DNA او جنتيکي انجينري

د ۱۹۵۰ م. کال په لومړنيو کې ساينس پوهان په دې قانع شول چې جينونه له D A څخه جوړ دي او په دې پوه شول چې د D A له پېژندنې د وراثت رمز رابرسېره شو. په تېرو لسيزو کې ساينس پوهانو د جنتيکي موادو جوړښت او کارولو او په لابراتوار کې د هغې د جوړولو لارې چارې کشف کړې او په دې وپوهېدل چې هغه څنګه د ژونديو موجوداتو د ارثي ځانګړتياوو د بدلونونو لپاره استعمال کړي.


د جنتيکي انجينرۍ پيل د ۱۹۶۰ م له لسيزې څخه وروسته هغه وخت صورت وموند چې ځينې انزايمونه کشف شول. دغه انزايمونه د ماليکولي قيچې په نامه هم يادېږي چې په واسطه يې له خپلې خوښې سره سم د D A لوی ماليکولونه په کوچنيو ټوټو ويشل کېدای شي. نن ورځ د جين انجينرۍ په مهمو برخو، لکه: په کرنې، درمل جوړونې او انساني طب کې کارول کېږي.

ددې څپرکي په لوستلو سره به وکړای شئ، چې:


د D A په کشف پوه شي، جنتيکي رمز او په D A کې د جنتيکي معلوماتو د لېږدونې ډول به زده کړئ. د D A ماليکولي جوړښت به وپېژنئ، او جنتيکي انجينري به تعريف کړی شئ، د جنتيک انجينرۍ عملي پلې کول به شرح کړی شئ، پر ځينې اخلاقي مسايلو چې زموږ په ژوند کې د D A د ټکنالوژۍ د نفوذ له کبله پيداکېږي، پوه شي او د جنتيک د انکشاف په اړه د ساينس پوهانو د کار ستاينه وکړئ.

## د A D او A ترمنځ توپیرونه:

۱- د A D او A R توپیر په قندونو کې دی. د A D قند ډي اوکسي ریبوز (Deoxyribose) دی او د A R قند ریبوز (Ribose) دی، یعنې د A D په مالیکول کې د A R په نسبت یو اتوم اکسیجن کم دی.



اوکسي رایبوز قند



ډي اوکسي رایبوز قند

۲- د پنځه قلوي ګانو څخه درې قلویګانې یې (ادنین، ګوانین او سایتوسین) یو شان دي، څلورمه قلوي په A D کې تایمین ده او په A R کې یوراسیل ده.

۳- د A R جوړښت یو رشتوي دی، خو د A D جوړښت ډبل یا مضاعف دی.

٤- A R نظر A D ته ډېر کوچنی دی.

## د A ډولونه:

پـه یوه حجره کې د A R بېلابېل ډولونه شتون لري چې د دندو له مخې یو له بله توپیر کېدای شي او عبارت دي له:

۱- پېغام وړونکي (Messenger) یا A mR : هدایات یا پېغامونه د هستې له A D څخه اخلي او په سایتوپلازم کې یې ریبوزومونو ته رسوي.

۲- رېبوزومي (Ribosomal) یا A rR : کیمیاوي مواد دي چې ریبوزوم ورڅخه جوړ شوی دی. (د پروټین په جوړښت کې مرسته کوي)


۳- لېږدوونکي (A R (Transfer یا A tR : دندې یې ریبوزوم




(c) ketabton.com: The Digital Library

عصبي حجرې کولی شي ځيني هورمونونه هم توليد کړي او همدارنګه ځيني کيمياوي توکي د اندوکراين په سېستم کې د هورمون په ډول او هم د عصبي لېږدوونکي په عصبي سېستم کې فعاليت لري. د بېلګې په توګه اپی نفرين (Epinephrine) په ځينو ځايونو کې د هورمون رول او په ځينو ځايونو کې د عصبي لېږدوونکي رول لوبوي. کله چې دغه ماده له يوې عصبي حجرې څخه څخول کېږي د نيورونونو ترمنځ د عصبي پېغام د لېږدونې لامل کېږي او کله چې ادرينال غدې په واسطه وڅخول شي د هورمون په بڼه عمل کوي او انسان جګړې يا تېښتې ته برابروي. (۷-٤) شکل


بل توپير د اندوکراين او عصبي سېستم ترمنځ په دې کې دی چې عصبي انتقالوونکي هغه پېغام رسوونکي دي چې چټک عمل کوي او کم عمر لري، په داسې حال کې چې هورمونونه معمولاً ورو او پرله پسې تاثير کوي.




الف: هورمون څخوونکې د اندوکراين غده




ب: د هورمون څخوونکې عصبي حجره




ج: عصبي لېږدوونکې حجره (Neurotransmitter)


(۷-٤) شکل: د هورمونونو بېلابېلې څخوونکې حجرې



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ګلوکوز د سطحې تنظیم**: په وینه کې د ګلوکوز د سطحې ساتنه او تنظیم په دوو بېو سرته رسېږي، یو، په ټاکلو وختونو کې د غذا خوړل. بل، د هغه هورمون په واسطه چې د پانکراس د غدې په واسطه څخول کېږي. پانکراس یو شمېر ځانګړې حجرې لري چې د لنګرهانز د جزیرو (Langer Hans Islets) په نامه یادېږي. دوه ډوله حجرې دي؛ یو ډول الفا او بل یې د بېټاپه نامه یادېږي. د الفا حجرې د ګلوکاګون (Glucagon) هورمون او د بېټا حجرې د انسولین (Insulin) هورمون څخوي. د انسولین هورمون په وینه کې د ګلوکوز سطحه ټیټوي. څرنګه چې نوموړی هورمون د عضلاتو حجرې تحریکوي ترڅو اضافه ګلوکوز جذب او پر ګلایکوجن (Glycogen) چې یو پولي سکراید (څوقیمته قند) دی بدلوي او په ځیګر کې زېرمه کېږي. خو د ګلوکاګون هورمون د انسولین د هورمون برعکس عمل کوي، یعنې په وینه کې د ګلوکوز سطحه لوړوي. په دې ترتیب چې په وینه کې د ګلوکوز د کموالي په وخت کې د ګلوکاګون هورمون ددې سبب کېږي، د ځیګر حجرې یې ازادوي، ګلوکوز، چې د ګلایکوجن په بڼه په ځیګر کې ذخیره شوي دي، ازادې کړي، ترڅو په وینه کې د ګلوکوز د سطحې ټیټوالی لوړ کړي. (۹-٤) شکل د انسولین او ګلوکاګون متضاد عمل د فیډبیک د میکانېزم ښه مثال دی چې په وینه کې د ګلوکوز د سطحې په تنظیم او تعادل کې مرسته کوي.





(۹-٤) شکل: د ګلوکوز د سطحې تنظیم یا تعادل

کپسول او گلوميرول، د فلتر يا تصفيې عمليه سرته رسوي. نفرون درې برخې لري:

۱- پرکسمال ټيوب (Proximal Tubule)، ۲-هنله لوپ (Henley loop) چې يو (U) ته ورته ټيوب دی د وينبته رګونو شبکه لري مواد په ځينو حالاتو کې ميدولا ته او بيا کارټکس ته انتقالوي.

۳- ډسټل ټيوب (Distal Tube): دا ټيوب ځکه د ډسټل ټيوب په نامه يادېږي چې له بومن کپسول څخه لرې واقع دي. ډسټل ټيوب فلترات مواد چې له يوزيات شمېر نفرونو څخه يې اخېستې وي، هغه په ټولوونکي کانال کې خالي کوي. ذکر شوي فلترات چې په حقيقت کې ادرار دي، د ټولوونکي کانال څخه تېرېږي. له پښتورګي څخه زيات شمېر جمع کوونکي کانالونه ادرار اخلي او Pelvis ته يې لېږدوي چې له هغه ځايه د ادرار نل په واسطه مثانې ته ځي.




(۳-۵) شکل: د انسان د اطراحيه سېستم د نفرون جوړښت



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پښتورگو دندې**: د پښتورگو مهمې دندې په لاندې ډول دي:

۱- پښتورگي زهري مواد، لکه: يوريا، يوريک اسيد، مالگې، د درملو پاتې شونې او نور اضافي او بېکاره توکي له بدن څخه اطراح کوي.

۲- که چېرې په وينه کې د گلوکوز غلظت له ټاکلي کچې څخه زيات شي، اضافه اندازه يې د پښتورگو په واسطه اطراح کېږي.

۳- د بدن د مايعاتو اسموتيک فشار په ټاکلي اندازه ساتي، مثلاً: که په وينه کې د اوبو اندازه زياته شي اسموتيک فشار کمېږي. پښتورگي اوبه له بدن څخه اطراح کوي.

٤- په وينه کې د مالگو غلظت کنترولوي، که د مالگو غلظت په وينه کې ډېر شي اسموتيک فشار زياتېږي. پښتورگي زياته مالگه اطراح کوي. په دې ډول اسموتيک فشار ثابت پاتې کېږي.

۵- د وينې PH معين ساتي: که چېرې د بدن د مېتابولېزم په وخت کې حجرې زياته اندازه تېزاب يا قلوي توليد کړي. اضافه اندازه د پښتورگو په واسطه له بدن څخه وځي. په حقيقت کې د پښتورگو عمده دندې د بدن (Homeostasis) ياکنترول او ثابت ساتل دي.

**فعاليت**:

موخه: په تشو بولو (ادرار) کې د گلوکوز تشخيص

په تشوبولو کې د گلوکوز د تشخيص لپاره له بنديکت محلول څخه گټه اخېستل کېږي.

کړنلاره: په يو ازمايښتي نل (Test Tube) کې cc د بنديکت محلول واچوئ.

۸ څاڅکي تشې بولې وربانديې ورزياتې کړئ.

ازمايښتي نل د ۵ دقيقو لپار په خوټېدلو اوبو کې کېږدئ.

په ازمايښتي نل کې د محلول د رنگ بدلون موږ ته په تشوبولو کې د گلوکوز شتون راښايي.

آيا د روغ انسان په تشو بولو کې هم گلوکوز شتون لري؟ که چېرې ځواب هو وي په تشو بولو کې د قند شتون د کومې ناروغۍ نښه ده؟

په ياده شوې تجربه کې ډېره پاملرنه ضروري ده، ځکه چې د گلوکوز د بېلابېل تراکم له کبله بېلابېل رنگونه منځته راځي، مثلاً: د گلوکوز په (۰,۲۵٪) سلنې تراکم کې د محلول رنگ شين او په يو سلنې (۱,۰٪) تراکم کې ژېړ او د يو سلنې (۱٪) څخه زيات نارنجي او د دوه سلنې څخه زيات تراکم سرې خښتې ته ورته رنگ وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

